AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۲/۲۶

# غزل

## بچیان چې ورته وژني ننداره کوي راغونډ شي

صلاح ته سره ټول دي جرګه کوي راغونډ شي
دغه خلک چې څه نوې فیصله کوي راغونډ شي

ټول عمر دې بې ساه تصویر ته تیر کړ په خبرو
یاران چې سره کیني دا ګیله کوي راغونډ شي

کرۍ ورځ پسې ګرځم نه یې وینم نه یې مومم
د شپې ستوري رڼا کوي کیسه کوي راغونډ شي

په دغه چم کې خلک له ژوند داسې خفه شوي
زه وینمه هدیره هدیره کوي راغونډ شي

له دې به غلامي څه بل تعریف و رنګ لري نو
بچیان چې ورته وژني ننداره کوي راغونډ شي

پښتون جانان مې لړ چې له پردیو په امان شي
بیا ودرېږي له ما سره جګړه کوي راغونډ شي

سدرو له سمسور لاس مینځه هغه اوس لیونی دی
ستا نوم اخلي په هر لور اشاره کوي راغونډ شي

یادونه: دا زما دریم غزل و، چې ۱۶ کلنی کې مې لیکلی و. څو ورځې وړاندې چې د لوګر په فوټبال سټیډیوم کې سلګونه خلک د خپلو اولادونو د ډېبېدلو پروګرام ته راغونډ شول، نو خپل غزل رایاد شو.

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ